https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

# د ای‌لسا- (ILSAA) په تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو کې د ګډون رضایت پاڼه

او ام بي – (OMB) کنټرول شمیره: 0401-0970
د ختمیدو نیټه xx/xx/xxxx :

**د اداري تشریفاتو یا** کاغذپرانۍ د کمښت قانون – (PRA) (Pub. L. 104-13) OF 1995: د دغه معلوماتو د را ټولولو موخه دا ده چې د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژې -ایلسا ILSAA)) له خوا تاسو ته وړاندي شوي حقوقي خدماتو په اړه ستاسو د تجربې په اړه معلومات را غونډ کړل شي. د یادونې وړ ده چې دغه پروژه د کډوالو د بیامیشتیدنې د دفتر (ORR) نوښت دی. د عامه خلکو لپاره د دغه ډول معلوماتو د را ټولولو وخت په اوسط توګه درې ساعته د هر ځواب ویونکي پر سر اټکل شوی دی، په دې کې د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو ته د سفر کولو وخت، د لارښوونو مرور او بیا کتنه، او په دغه بحثونو کې د ګډون کولو وخت په پام کې نیول شوی دی. د معلوماتو دغه ډول را ټولول داوطلبانه دي. یو دولتي (فدرالي) اداره ممکن چې دغه کار تمویل یا سپانسر او یا تر سره نکړي، او هیڅ کس یا هم کوم بنسټ دا مکلفیت نه لري چې ځواب ووایي، او نه هم به یو کس یا بنسټ د ۱۹۹۵ کال د کاغذ پرانۍ د کمښت قانون اړتیاو سره سم د معلوماتو راټولولو سره په مطابقت کې د جریمې تابع کیدای شي خو په **استثنا له دې چې د معلوماتو راټولول** اوس مهال **د** او ام بي – (OMB) **باوري کنټرول شمېره وښیې.**

**ګډون رضاکارانه دی:** له تاسو څخه غوښتنه شوې چې پدې تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو کې برخه واخلئ. ستاسو ګډون په دې د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو کې داوطلبانه دي، او تاسې کولای شئ چې هر وخت وغواړې د دې مطالعې څخه - پرته له دې چې ستاسو پر هغو خدماتو چې د ای‌لسا (ILSAA) - یا نورو ادارو څخه یې ترلاسه کوئ کوم اثر وکړي- بهر شئ . په دې سند کې د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونوپه اړه مهم معلومات، په شمول د دې چې که چیرې تاسو ګډون وکړئ نو څه **تمه** باید ولرئ، شامل دي. مهرباني وکړئ معلومات په غور سره په نظر کې ونیسئ او ملاحضه یی کړئ. مخکې له دې چې د ګډون په اړه تصمیم ونیسئ، کولای شی خپلې پوښتني مطرح کړئ.

**د څېړنې شالید(بګرونډ):** د نویو راغلو افغانانو لپاره د **حقوقي** خدماتو پروژه - ای‌لسا ILSAA))، چې د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) لخوا تمویل کیږي او د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه – (USCRI) او آی سي اِف – (ICF) لخوا پلي کیږي ، یوه څېړنه ترسره کوي تر څو د هغو افغانانو تجربې وپلټي چې په متحده ایالاتو کې میشت شوي او له ای‌لسا- (ILSAA) څخه یې حقوقي خدمات ترلاسه کړي دي.

موخه دا ده چې پوه شو تاسې څنګه د ای‌لسا- (ILSAA) لخوا وړاندي شوي حقوقي خدماتو څخه ګټه پورته کړې او څنګه یې ارزوئ. پر دی پوهیدل او نبه درکول به د راتلونکو مرستو او ملاتړ پروګرامونو ترتیبولو په برخه کې مهم او حیاتي وي.

**د څېړنې طرحه:** دا د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونه به د یو ژباړونکي په مرسته پر مخ یوړل شي او تاسو ته به د خپلو تجربو دڅرګندولو لپاره خوندي چاپیریال چمتو کړل شي. مور تمه لرو چې دا د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ

The content in this document is provided for informational purposes only and should not be construed as legal advice on any matter.
USCRI received competitive funding through the U.S. Department of Health and Human Services, Administration for Children and Families, Contract #140D0423C0027. The ILSAA project is 100 percent supported by federal funds.

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

بحثونه به د یو نیم ساعت په شاوخوا کې وخت ونیسي. تسهیل کونکی(د پروګرام پرمخ وړونکی) به بحثونه پر مخ بوځي او جریان به یې د ځیرنیزو موخو لپاره رکارډ (ثبت) شي. له تاسو څخه د پوښتنو کولو موخه د ایلسا- ( ILSAA) څخه د خدماتو ترلاسه کول او تجربو په اړه پوهیدل دي. ژباړونکی به د تسهیل کونکي او برخه اخیستونکو ترمنځ شفاف او روښانه اړیکه تضمین کړي. د ثبت کولو سربیره، یو نوټ اخیستونکی به ستاسو ځوابونه د تحلیل او تجزیې لپاره یاداشت او ولیکي. یو افغان کارکوونکی چې د موضوع د کارپوه په توګه نومول شوی ، د تسهیل کوونکي د ټیم برخه ده او د کلتوري پوهاوي په برخه کې به د ټیم سره مرسته کوي. د تسهیل کوونکي ټیم د معلوماتو محرمیت یعني پټ ساتلو پابند دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ټولې خبرې اترې خصوصي پاتې کیږي.

**د ګډون خطرونه:** په دې تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو کې ګډون ممکن ځینې خطرونه ولري. د شخصي تجربو یا حساسو موضوعاتو په اړه د بحث کولو پرمهال، تاسو کیدای شی احساساتي یا رواني فشار تجربه کړئ. بحثونه کیدای شي په ناڅاپي ډول حساس کلتوري مسلې درپه یاد کړي، او د نارامتیا سبب شي. ژبني خنډونه ممکن د غلط فهمۍ لامل شي. که څه هم، تسهیل کونکي د کلتوري حساسیت او د صدماتو (ټراما) مراقبت کې روزل شوي دي او پدې پوهیږي چې دا خطرونه څه ډول اداره کړي ترڅو د خطرونو مخه ونیسي او یا یې کم کړي. ستاسو محرمیت زمونږ لومړنۍ اولویت دی او ستاسو د ځوابونو امنیت ډاډمن کولو لپاره اقدامات ترسره شوې دي. هره هغو پوښتنو ته چې نه غواړئ ځواب ورکړئ، تاسې یې د نه ځوابولو اختیار لرئ. موږ ستاسې د محرمیت ډاډ ترلاسه کولو لپاره قوي ګامونه اخیستي دي، او ستاسو د هویت افشا کیدو خطر خورا لږ دی.

**د ګډون ګټې:** په دې تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو کې د ګډون په پایله کې لاندې ګټې تر لاسه کوی شی: نوي مشاهدات او معلومات ترلاسه کول، همکارانو او دوستانو سره ارتباطات ټینګول، اعتبار ترلاسه کول، د ایلسا- (ILSAA) په خداماتو اغیزه کول، او مالي اجوره ترلاسه کول ( هڅوني په خاطر). موږ تمه لرو چې د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ د بحثونو پایلې به د ایلسا- (ILSAA) لپاره ارزښتناکه معلومات چمتو کړي ترڅو د افغان کډوالو لپاره د خدماتو کچه لوړه کړي. ستاسو همکاري او ګډون د افغانانو لپاره دراتلونکو مرستو او پروګرامونو په جوړونه کې مهم او ګټوره وي، او په بالقوه توګه د خدماتو کیفیت او لاسرسي ښه کولو لامل کیږي.

The content in this document is provided for informational purposes only and should not be construed as legal advice on any matter.
USCRI received competitive funding through the U.S. Department of Health and Human Services, Administration for Children and Families, Contract #140D0423C0027. The ILSAA project is 100 percent supported by federal funds.

**د محرمیت او معلوماتو (ډیټا) مدیریت:** ځوابونه به په غږیز (آډیو) ډول او نوټ اخیستلو له لارې ثبت شي او په خوندي ډول به د دې ادارې په داخل کې وساتل شي. ستاسې ثبت شوی غږ (آډیو) به د ژباړونکي شرکت پرته د بل چا سره شریک نشي ترڅو د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونه د لیکلي راپور په چمتو کولو کې مرسته وکړي. کله مو چې د آډیو لیکل شوې بڼه (ټرانسکرپټ) تر لاسه کړ، موږ به غږیز رکارډونه پاک او لمنځه یوسو. ستاسو نوم به په لیکلې بڼه او یا کوم نوټ کې نه وي څرګند. ستاسو نوم او بل کوم پیژندونکي معلومات به ستاسو د ځانګړو نظرونو سره په هغه اسنادو کې چې د دې تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بحثونو په پایله کې وي نه ضمیمه کیږي. په بل عبارت، دا پدې مانا ده چې هیڅوک به ونشي کولای ستاسو هویت د هغه معلوماتو څخه پیدا کړي چې موږ یې په دې څېړنه کې راټولوو او کاروو. معلومات به په داخلي توګه د ای‌لسا- (ILSAA) او کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر(ORR) استازو سره ، او په احتمالي توګه د او ار ار- (ORR) د پالیسۍ سره سم، د قضیې په قضیې ډېر بنیاد د بهرنیو ادارو سره شریک شي. په دې ترتیب، کیدای شي داسې شرایط شتون ولري چې دا معلومات باید خپاره شي یا شریک شي لکه څنګه چې د قانون له مخې اړتیا وي. ټول راټول شوي معلومات د ای‌لسا- (ILSAA) پالیسۍ لخوا تر ټاکل شوې مودې لپاره ساتل کیږي، وروسته له هغې دا معلومات د محافظت مقرراتو سره سم ویجاړ یا خوندي کیږي.

**د ګډون کونکي** لپاره **لارښوونې:**

- خصوصي حریم: برخه اخیستونکي موافق دي چې په ګروپ کې شریک شوي معلومات د غونډې څخه بهر د نورو سره نه شریکوي.
- **ثبت کولو څخه ډډه کول:** ګډون کونکو ته اجازه نه ورکول کیږي چې غونډه په هر ډول (آډیو، ویډیو یا عکسونو) کې ثبت کړي ترڅو د ګروپ محرمیت ته درناوی وشي.

**د ګډون لپاره** ستاینه**:** تاسو به د تمرکز ډله یا فوکس ګروپ ناستې له بشپړیدو وروسته د ۵۰ ډالرو ډالۍ(ګفټ) کارت ترلاسه کړئ، ترڅو ستاسو د ونډې لپاره زموږ قدرداني منعکس کړي.

**اخلاقي تصویب:** دا څېړنه د اداری بیاکتنې بورډ ای ار بي - (IRB) لخوا برسې او تصویب شوې. دا د دې څېړنې په ترسره کولو کې د لوړ اخلاقي معیارونو تعقیب یقیني کوي.

**د اړیکو معلومات:** که تاسو د دی تمرکز ډله یا فوکس ګروپ بخثونو په اړه کومه پوښتنه، اندیښنه، یا شکایت لرئ، مهرباني وکړئ د Rafael Camacho Jr سره په دغه بریښنالیک rafael.camachojr@icf.com یا دغه شمېره (833-286-0864) اړیکه ونیسئ. د دې څېړنې د یو ګډون کوونکي په توګه که د خپلو حقونو په هکله که کومه پوښتنه لرئ او یا د دغې څېړنې په اړه نورې څه اندېښنې لرئ او یا شکایت لرئ او غواړئ

The content in this document is provided for informational purposes only and should not be construed as legal advice on any matter.
USCRI received competitive funding through the U.S. Department of Health and Human Services, Administration for Children and Families, Contract #140D0423C0027. The ILSAA project is 100 percent supported by federal funds.

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

داسې چا سره يې شريک کړې چې د ايلسا پورې تړاو ونلري،کولای شی په دې ايميل پته irb@icf.com د بياکتنې بورډ سره اړيکه ونيسئ.

**د رضايت بيان:** زه د دې رضايت فورمې محتوا او د تمرکز ګروپ په اړه چمتو شوي معلوماتو باندې پوهيږم. زه هر ډول اړوند خطرونو څخه خبر يم او منم يې. ما د پوښتنو کولو فرصت درلود او زما د اطمينان سره سم مې ځوابونه ترلاسه کړل. زه په داوطلبانه توګه موافق يم چې په دې څيړنه کې برخه واخلم.

د لاندني برخې په لاسليک کولو سره، زه د پورته بيانونو سره موافق يم او په دې تمرکز ډله يا فوکس ګروپ کې د ګډون لپاره خپل رضايت ورانديې کوم.

د ګډونوال نوم (پرنټ حالت): ______________________________

د ګډونوال لاسليک: ______________________________

نېټه: ______________________________

The content in this document is provided for informational purposes only and should not be construed as legal advice on any matter.
USCRI received competitive funding through the U.S. Department of Health and Human Services, Administration for Children and Families, Contract #140D0423C0027. The ILSAA project is 100 percent supported by federal funds.